# مطبوعاتي اعلامیه

د لویدیځ مشران د نیوزیلند د جنایت مسوولین دي!

(ژباړه)

د ۲۰۱۹م د مارچ په ۱۵مه استرلیایي مجرم برېنتون ټرېنټ یو جنایت تر سره کړ، چې د نیوزیلند کرسچرچ سیمې په النور جومات کې یې د ۴۱ تنو ژوند واخیست او لسګونه نور یې ټپیان کړل. وروسته یې بیا په لینووډ جومات کې چې ۳ مایله له النور جومات څخه واټن لري خپل جنایت ته دوام ورکړ، چې ۵۰ تنه یې ووژل او ۴۷ نور ټپیان شول. که څه هم ددغو دوو جنایتونو تر منځ ۴۵ دقیقې وخت تېر شو، خو امنیتي ځواکونو له دویم جنایت څخه مخنیوی ونه کړ!

دغه ترهګر په خپل ۷۴ پاڼه ویناکې له نورو کسانو غوښتي، چې ده ته ورته پېښې وکړي او په لوېدیځ کې مسلماني ښځې، ماشومان او سپین ږېري له کوم توپیر او رحم پرته تر هغه ووژني، څو لوېدیځ پرېږدي... د هغه له وینا جوتېږي، چې د هغه جرم د نورو جنایتونو په لړ سره پېښ شوی. هغه دا هم ویلي، چې دی د داسې سازمان ملاتړ له ځان سره لري چې له صلیبي جګړو راهیسې جوړ شوی دی.

خو پوښتنه دا ده چې د دې قصاب تر جنایتونو وروسته به دا کار پای ومومي؟! که څه هم مخکې دا ډول جنایتونه ترسره شوي لکه ډاکټر براوخ ګولد شتین چې د ۱۹۹۴م د روژې په میاشت کې په ابراهیمي جومات کې ۲۹ تنه لمونځ کوونکي ووژل او ۱۲۵ تنه نور یې ټپیان کړل، بله بېلګه یې د سربیرنیکا نامتو جنایت دی چې د سربیانو لخوا تر سره شو، چې د ۸۰۰۰ مسلمانانو ژوند یې واخیست او د ملګرو ملتونو ځواکونو د مسلمانانو د ژغورنې لپاره هېڅ هم تر سره نه کړل، په داسې حال کې چې د مسلمانانو د ساتنې تضمین یې کړی و. او ورته جنایتونه په میانمار، منځنۍ افریقا او کشمیر کې تر سره کیږي. ایا نړیوال ایتلافي ځواکونه به له خپلو جنایتونو لاس واخلي؟ چې په عراق او سوریه کې یې له داعش سره د مبارزې په نامه ۳۲۰۰۰ هوایي بریدونه تر سره کړي، په داسې حال کې چې پوهېدل، زرګونه ملکي کسان پکې وژل کیږي. د روسیې له وروستیو جنایتونو مو لا څه نه دي ویلي، چې په ادلیب کې یې پر ملکي خلکو ۴ هوایي بریدونه کړي او همداسې په غزه کې یهودیانو پرون ۱۰۰ بریدونه ترسره کړي!

هو! د مسلمانانو پر وړاندې د نړیوالو جنایتونو د ټولو لپاره نور ځای نشته که هر څومره د هغې لپاره پلمې او دلیلونه راوړل شي. د لوېدیځ مشرانو هوډ دا دی چې له صحنې څخه د مسلمانانو د ایستلو لپاره کمپاینونه وکړي، لکه څرنګه چې له بومي امریکایانو سره په امریکا کې وشول او که په دې کې پاتې راشي، بیا نو غواړي مسلمانان ووېروي او اړ یې کړي، څو خپل دین پرېږدي، لکه څرنګه چې په ختیځ ترکستان کې چینایي چارواکي او په روسیه کې روسي چارواکي دا کار تر سره کوي.

د جنایتونو پړه د افرادو په غاړه نه ده،بلکې دا جنایتونه د هغو پالیسیو په لړ کې تر سره کیږي چې د لوېدیځ چارواکو لخوا جوړیږي او پلي کېږي، څو د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې د خپلو خلکو په زړونو کې نفرت پیدا کړي. د دولت لخوا رسمي جنایتونه او د افرادو او کسانو لخوا غیر رسمي جنایتونه د دې نفرت ښکارندوي کوي.

الله سبحانه و تعالی د دغو جنایتکارانو د نفرت په هکله داسې فرمایلي:

(وَلَا يَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمْ عَن دِينِكُمْ إِنِ اسْتَطَاعُوا)

[البقره:۲۱۷]

ژباړه: هغوی به له تاسو سره تل تر هغه په جنګ اخته وي، څو يي چې زور ورسيږي او تاسو له خپل دين څخه راوګرځوي.

او الله سبحانه و تعالی فرمايي:

(قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاءُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ)

[ال عمران:۱۱۸]

ژباړه: د هغوی د زړه دښمني يي له خولي څخه راوځي او څه يي چې په سينو کي پټ ساتلي دي، تر دې زيات دي.

الله سبحانه و تعالی موږ ته لارښوونه کړې چې څرنګه د مسلمانانو عزت او شرف راژوندی کړو او د هغوی له ويني تويېدني مخنيوی وکړو، چې هغه هم د خليفه په شتون کي کېږي، چې د دښمنانو په زړونو کي وېره اچوي او د هر هغه چا مخه نيسي چې غواړي مسلمانانو او اسلام ته ضرر ورسوي.

(وَأَعِدُّوا لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِن دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ اللَّهُ يَعْلَمُهُمْ)

[الانفال: ۶۰]

*ژباړه: او تاسي تر خپل وس او طاقت زيات تيار زين کړي آسونه د هغوی مقابلې ته برابر کړئ، ترڅو په دې وسيله د الله پر دښمنانو، پر خپلو او هغو نورو دښمنانو وېره خپره کړئ، چې تاسي يې نه پېژنئ، خو الله يې پېژني.*

دښمنان يوازې د زور په ژبه پوهېږي. رسول الله صلی الله عليه وسلم داسي فرمايلي:

«إِنَّمَا الإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ وَيُتَّقَى بِهِ»

ژباړه: امام ډال دی چې د هغه تر شا جګړه کيږي او هغه ته پناه ور وړل کېږي

اې مسلمانانو! ستاسو د فخر، بريا او الله سبحانه وتعالی ته د بندګۍ لار تاسو ته واضح شوې. ستاسو وينه او عزت به يوازې د خلافت دولت لخوا وساتل شي، چې تاسو او ستاسو ځواک سره يوځای کوي او ستاسو دښمن وېروي او تاسو له دې ذلت څخه باسي او د بشريت لپاره مو تر ټولو ښه امت ګرځوي.

اې الله! په نيوزيلند او بل هر ځای کي زموږ شهيدانو باندې خپل رحمت خپور کړه او د هغوی ځای د جنت لوړ مقامونه وګرځوه او موږ ته توفيق راکړه چې ژر تر ژره خلافت رامنځته کړو، ته قادر او حافظ يې.

داکتر عثمان بخاش

د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر مشر

د صدور شمېره: ۱۴۴۰/۲۳

۱۴۴۰، د رجب ۰۸ مه

۲۰۱۹م، د مارچ ۱۶ مه